ډاکتر رحمت ربی ځيرکيار*
۰۲ فبروری ۲۰۱۶

# د جرګې په مخکې او د ټوپک تر شا:
# د جنرال يارمحمّد خان وزيری د کتاب لنډيز

۱

* د برلين د ازاد پوهنتون، د کابل پوهنتون، او په امريکه کې په دوه پوهنتونونو کې د سياسي علومو پخوانی ښوواند. ماستري او ډاکتري دواړه په سياسي علومو کې د برلين په ازاد پوهنتون کې، او مافوق بکلوريا په سياسي تعليم او تربيه کې په ګویتي پوهنتون کې – د فرانکفورت/ماين ښار

## سريزه

څو ورځې وړاندي ما ځيرکيار خپله پښتو ليکنه ( د خپلواکئ او غلواکئ جګړې د جنرال وزيري او ملاکاتب په کتابونو کې) د ۲۰۱۶ د جنورئ په ۱۵( ۲۵ مرغومی ۱۳۹۴ لمريز) ويب سايټونو ته وليږله او خپره شوه. کانديد اکادميسن اعظم سيستاني په ګرندي ډول په فارسي وژباړله او زه يې په دې علمي خدمت پوروړی کړی يم. د دغې ليکنې په اړه راته څو تنو په ګډه سره داسي ليکلي دی چې: د ليکلو سبک دې «ځانګړی» دی او «ورک معلومات » دې پکې خوندي کړي دي، ورک په دې معنی چې «موږ پرې خبر نه وو». يو بل افغان را ته ليکلي دي چې: په غټه کچه مې «مبهم موضوعات» را برسيره کړي دي او د راتلونکو نسلونو لپاره مې د واقعيتونو د «تحريف» مخه نيولې ده- دا ايميل په انګريزي ژبه رااليږل شوی و. يو بل پوښتلی يم چې ايا زه «د ټوپک او جګړې جنرال» يم؟ زما غبرګون دا دی چې «نه!»: زه د قلم او واکپوهنې (سياسي علومو) پوهيدونکی يم. ګڼ شميرنورو شکايت کړی دی چې د ليکنې په ځينو ځايونو کې مې ګرندي ګامونه اخيستلي دي، او کلکه هيله يې کړې ده چې بايد زيات معلومات وړاندي کړم. دغه دی د تيري ليکنې په شمول، نور معلومات او لاسوندونه (شواهد) به وړاندي کړم، په لاندي ډول حبيب الله رفيع ليکوال، شاعر، اوتاريخپوه دی چې اوس په کابل کې د علومو اکاډيمی د تاريخ په څانګه کې مصروفيت لري.

څه د پاسه ۴۷ کالونه وړاندي، رفيع په پټ يعني مستعار نوم («خپلواک») د هغه مهال په مات ګوډ دموکراتيک شرايطو کې په دې سرليک يوه ليکنه په کابل کې خپره کړې وه:« د خپلواکئ د لارې يو لوی مجاهد جرنيل يار محمد خان»( افغان ملت اووه ورځنی، ۸۵ پرله پسې ګڼه: ۱۹ وږي ۱۳۴۷ لمريز=۱۰ سپټمبر ۱۹۶۸ زيږ=۱۶ جمادی

الثانی ۱۳۸۸). ما ته  د رفیع د لیکنې  پاسنی فوټو کوپي رارسیدلي وه او د هغې له مخې مې لانـدې متـن ټا یپ کـړی دی:« دا یو ثابت او منلی شوی حقیقت دی چه د افغانستان ملي تا۷یخ تر اوسه نه دی لیکل شوی او کومه کرښه چه چیرته شته هغه هم ضمنی ده، نو دا د افغان ملت تاریخي او اساسي وظیفه ده چه د ملیونو او ملی مجاهدینو کارنامی خوندی کړی او وخت په وخت د ملت د تاریخ بابونه محفوظ وساتی، په همدی غرض دلته د هیواد د خپلواکۍ د لاری د یوه لوی  مجاهد جرنیل یار محمد خان [وزیری] سره تاسی معرفی کوو.»[ دغه مهال «د کابل فاتح شاه ولـي خان» ژونـدی و، خو هغه مهال لکه چي د افغانستان مورخینو اود طبقاتي مبارزي مشرانو په «افغان ملت» اخبار کي د حبیب الله رفیع پښتو لیکنه نه وه لوستلي!؟ «افغان ملت» هغه خپرونه وه چي د امتیاز خاوند یي انجنیر غـلام محّمد فرهـاد و او مسئول مدیر یي قدرت الله حـداد. د زیاتـو معلـوماتو لپاره زما راتلونکی کتاب ولـولئ: د نا پوهی تیارې او د پرمختګ ډیوې د افغاني کلتور په چوکاټ کي له عبدالرحمن خان نه تر اشرف غني: ۱۸۸۰تر ۲۰۱۵]- ځیرکیار






## (۱) «برېالي غازي» او ولسي جنرال یارمحّمد خان وزیری

دلته د جنرال وزیري خاطرې درپېژنم چې په ۳۵۰ + مخونو کې يې خپرې کړې دي: د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاريخ. ترتيبوونکی فدامحّمد نومير. خپروونکی: د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره: پيښور، پښتونخوا. چاپځی: ملت پريس،لاهور، ۱۳۷۹هجري لمريز=۲۰۰۰زيېز

د جنرال وزيري کتاب د افغانستان د ملي تاريخ يو مهم د يوان دی چې له لوستلو نه يې هر سيال افغان خوند او پند اخيستلی شي. ليکوال يې نه يواځې جګړن و،بلکې ځما په اند جګړاند (ستراتيجيست: جګړه پوه، د جګړې چار پوه) و، خبرلوغ و او جرګه مار و. دا شمله وال او ولسي جګړاند د وزيرستان له بې نومه دفاعي او جهادي پوهنتون نه د برياليتوب په جګه درجه راوتلی و. د ا سړی هغه ستر پښتون- افغا ن و چې د خپلواکۍ او غلواکۍ (بچه سقاوی) جګړې يې لومړی په جرګو او بيا په جګړو ولاړې وې. دا هغه زړه ور جنرال و چې د ۱۳۵۱ هجري لمريز په سنبله (اګست ۱۹۷۲) کې يې د کابل ښار په کلوله پشته نومي سيمه کې د ماسخوتن په لس بجو د حق استازي ته لبيک ووايه او په سبا يې جنازه د کندهار ښارته ويوړل شوه او هلته په خپل کاريز(«جرنيل کاريز» = جنرال کاريز) کې خاورو ته وسپارل شو.

د هغه هديره او کاريز دواړه د تاريخي عينو مينې په خوا کې پراته دي.خو افسوس چې د افغانستان مترقي او ديني مورخينو په خپلو پنډوتاريخونو کې د ولسي او جرګه مار جنرال يار محّمد خان وزيري نوم او کارنامې نه دي ذکر کړي، سره له دې چې د جنرال يار محّمد خان په نوم (له امان الله خانه تر محّمد داود خانه) ګڼ شمير تحسين نامې او پادشاهي فرمانونه صادر شوي وو. امکان لري چې دغه تحسين نامې او فرمانونه به په کابل ښار کې په ملي ارشيف کې ساتل شوي وو او په ليدلو به يې کوم بنديزنه و لګيدلی؟ په ۱۰ سپتمبر۱۹۶۸(۱۹ وږي ۱۳۴۷ لمريز) کې حبيب الله رفيع په پټ (مستعار)نوم په «افغان ملت» اووه نيزه خپرونه کې په پوره احتياط سره « د خپلواکۍ د لارې يو لوی مجاهد جرنيل يار محمد خان» معرفي کړ. ښايي نامتو مورخينو به «افغان ملت» اخبار نه لوست.

جنرال يارمحّمد خان وزيری ليکي چې د اميرعبدالرحمان خان د پاچا کيدلو په کال (۱۸۸۰م)کې نهه کلن و، او د حبيب الله خان د پاچا کيدلوپه کال (۱۹۰۱م) کې ۲۹ کلن و. په دې ډول ويلی شو چې جنرال وزيری په ۱۸۷۱ زيېز کې زيږيدلی و او د ډيورنډ د رټلي استعماري تړون په کال ( نومبر ۱۸۹۳) کې ۲۲ کلن و.

جنرال وزيری د مرياني قوم په قنديل نومي سيمه کې په ديني کورنۍ کې زيږيدلی و. د پلار نوم يې بازمحّمد خان و، د نيکه نوم يې خان محّمد خان و. د حقداد خان کړوسی و او د شير محّمد خان مرياني (جمرياني) کوسی وچې د ۱۷۵۵ زيېز(۱۱۳۴لمريز) په شاو خوا کې د ټول افغانستان د قند يل په سيمه کې استوګن و. دغه سيمه اوس په پکتيکا ولايت کې شامله ده چې له کابل ښار نه ۳۱۷ کيلومتره واټن لري او د وزيرستان پولي ته نږدې پرته ده.

دين دوستی اوهيواد دوستی د جنرال يار محّمد خان وزيري په پخوانيانو کې هم غښتلي مقام لاره. د ده مشر نيکه شير محّمد خان مرياني د احمد شاه بابا د لمسي زمان شاه دراني (زيېز۱۷۹۳-۱۸۰۰) سره د سيکانو په مقابل کې په ۱۷۹۶ کې وسله وال ملاتړ وکړ: « اووه سوه جنګيالي ځوانان... دري سوه پسونه... يوسل او پنځوس په غله بار اوښان او شل د سپرلۍ لپاره ګرندي اسونه» يې په خپل لاس خپل «افغان اولی الامر» زمان شاه ته په پيښور کې وړاندې کړل. د جنرال وزيری د کورنۍ سلسله په ۷ هجري (۱۳ زيېزه) پيړۍ کې روحاني شخصيت حضرت حسين نيکه ته رسيږي چې په ختّه د کاسيانو په قوم ورګډيږي او زيارت يې قنديل ته په نږدې واټن کې پروت دی. يعنې

د جنرال یارمحّمد خان وزيري د سياسي ټولنيز کيدني عمليه په يو کلک روحاني او پښتني چاپېريال کې بشپړه شوي وه. دغه ډول کوټلي چاپيريال د ځوان يارمحّمد خان لپاره د مشرتابه زمينه برابره کړې وه

« د غازي جرنيل[جنرال] يارمحّمد خان وزيري ژوند ليک او کارنامې» په سرليک ليکنه ما ( ځيرک يار) ته منلي فدا محّمد نوميير د ۲۰۱۴ د اکتوبر په ۱۷ د پوستي له لارې د سهيلي کليفورنيا له «کورونا» ښار نه په تقريبا دوه مخونو کې راليږلې وه. دا بيدار او منلی افغان چې د کتابونو د لوستلو او ساتلوشوق لري، د اروابناد جنرال يار محّمد خان وزيري شپږم ځوی دی. زه او دی له اوږدې مودې راهيسې پيژنو. خو زه نږدې يوکال وړاندې پوه شوم چې دی ځوک دی: دغه مهال ما د ده د پلار د کتاب لومړی چاپ (۱۳۷۹ل=ز۲۰۰۰) لوستلی و، او په ۳۵۴ مخ کې مې يې د منلي فدا محّمد نوميير او د ده د اته نورو وروڼو نومونه لوستلي وو.

• پيښور ، پاړه چينار ، ګرديز ، کوهاټ ، **ټل**، خوست، ځدراڼ، ميرانشا ، **و انـه**

## (۲)امیر عبدالرحمان هغوی له خپل رعيت نه ويستلي وو

ليکوال جنرال (يارمحّمد خان وزيری)وايي چې يو وخت پخپله پوونده او کوچی و. نوموړی په خپلو خاطراتو کې کاږي چې د ډيورند په رټلي توافقنامې سره «دافغانستان د غبنتلي وجود» څخه «لاس اوپښې » غوڅ شول. امير عبدالرحمان «موږ فرنګيانو ته لاس تړلي سپارلي وو.» پخپله ۲۲کلن جنرال د وزيرستان د لوي مجاهد ملا پونده اخوند سره( چې د وزيرستان نور مهم سړي ورسره مل وو) د کابل په لور لاړ په دې هيله چې عبدالرحمان خان «د خپل ترون څخه واړوي» او د انګريزانو په مقابل کې يې غزا ته وخوځوي. د ملا پونده اخوند او ملا همزالله اخوند په مشرۍ د وزيرستان د خلکو جرګه ګی کابل ته ورسيدله، او امير عبدالرحمان خان ورته په حکومتي ميلمستون کې ځای ورکړ. د کابل ډيرو مشرانو غوښتل چې د دغې جرګه ګـی سره ووينې. خو د باچا ګمارل شوو اشخاصو به د وزيرستانيانوسره د ملاقات لپاره هغه ځوک «راپرېښودل چې به دحکومت سړي وو». ملا پونده اخوند امير عبدالرحمان خان ته د يولس (۱۱) تنو نومونه ښودلي وو چې ملاقات ورسره وکړي. خو هغه يواځې ملا پونده وغوښت او ورته ويې ويل چې: د ږوب(ژوب) او وزيرستان سيمه يې د انګريزانو سره د جګړې د مخنيوي له امله دوی ته پرېښې ده، تر هغه مهاله چې دوی په هندوستان او بنګال کې وي. امير ورزياته کړه چې هغه مهال د انګريزانو په ضد جنګيدل اسان کار نه وو. د دوی په ضد په دوه جګړو کې افغانستان ويجاړ شو، خو پخپله انګريزان لا همغسې په زور کې دي. امير عبدالرحمان ورته دوه وړانديزونه وکړل:(۱) د وزيرستان ولس کولی شي چې پخپله خوښه د انګريزانو سره معامله وکړي، خو که هلته يې ژوند تريخ وي، نو (۲) خپل کور افغانستان ته دې را په کډه شي. جرګه سم دلاسه وزيرستان ته ستنه شوه او د وزيرستان او ږوب (ژوب) ولس يې په دې وپوهاوه چې عبدالرحمان خان د خپل امارت د ساتنې لپاره د دوی خاوره انګريزانو ته سپا رلې ده. امير عبد الرحمان «موږ د خپل رعيت د حساب نه ايستلي وو». هغه مهال چې د وزيرستان جرګه له کابل نه راستنه شوه اود ملا پونده په مشرۍ غزا دوام درلود، «فرنګيانو ورته امارت وړاندې کړ. ولې ملا صاحب د فرنګيانو وړانديز د جهاد د مورچل له لارې رد کړ.» . امير حبيب الله خان (۱۹۰۱-۱۹۱۹)هم « زموږ د سيمو په اړه» د خپل پلار لار ونيوله. خو د ده ورور سردار نصرالله خان به د وزيرستان د غازيانو سره د رئيس المجاهدين ملا عبدالرزاق اندړ له لارې اړيکې پاللې. خو د ده مرستې دومره زياتې نه وې چې د وزيرستان او ږوب د ولسونو غزا برياليتوب ته ورسوي. په ۱۲۹۳لمريز (۱۹۱۴ز) کې غازي او «ملي قايد» ملا پونده اخوند له نړۍ سترګې پټې کړې. خو په وزيرستان کې

ملا همزالله اخوند او په کابل کي ملا عبدالرزاق اندړ د غازيانوخواخوږي او ملا تړ ته چمتو وو. د ملا پـونده له مړيني نه وروسته، د غــازيانو په خوښه ملا فضل الدين اخونـد (د ملا پونده اخوند ځوی) د مشرتابه لپاره غوره شو

### (۳) امير حبيب الله خان نه دخان او نه دملت شو

د لومړۍ نړۍ والي جګړې (۱۹۱۴-۱۹۱۸زييز) په مهال، امير حبيب الله « نه د ځان لپاره څه وکړل او نه يې موږ ته څه ګټه راورسيده.» په لغمان کي د ده د شهادت پورې، د وزيرو اود ږوب د خلکو غـزا د ملا همزالله اخونـد په مشرۍ چليدله. د خپل پلار په شان، امير حبيب الله خان هم د ږوب او وزيرستان ولس په خپل رعيت کي نه شميره. خو «موږ دا فکر او خيال نه کاوه چي موږ د خپل توکم څخه بيل ولس يو.» د فرنګيانوپوځ د لومړۍ نړۍ والي جګړې په مهال بوخت و، او لـه دې امله امير حبيبب الله خان ته ښـه موقـع ور په لاس شوې وه چي د خپل غليم د دغې پوځي کمزورۍ نه ګټه واخلي. د فرنګيانو چي په دغه جهاني جګړه کي برۍ په برخه شو، د سيند او پنجاب د کلک کنترول لپاره وزګار شول : د وزيرو او ږوب په ولس يي زور واچاوه چي مليشي پکي رامنځته کړي، او پوځي مرکزونه پکي جوړ کړي. خو ولس پرې غلچکي بريدونه کول، په هغو ټوپکونو چي پخپله د دغو بريدونو په اوږدو کي يي له انګريزانو نه لاسته راوړي وو. خو په مليشـو کي ځيـنو صوبدار ميجـرانو او کـومانـدانانو د غازيانو سره لاس لاره او دوی به يې د انګريزانو په قافلو او کاروانـونـوخبرول، او په ډول به غازيانو لوټول او وسلې به يي ورځني نـيولې. د وزيرستان او ژوب ولـسونه د ملا عـبدالرزاق انـدړ له لارې د امان الله خان په فکر خبـر شوي وو چي د خـپلواکۍ پـلوي دي او د انـګريـزانو غليم

### (۴) مان الله خان ته د ولس هيلي زياتي شوې

[ اميـر حبيب الله خان نـيمه شپه/ د سهار ۲ بجي د ۱۹۱۹ د فـبروری په ۲۰ په لغمان کي ووژل شـو او ورور يي نائب السلطنه سـردار نصرالله خان، خپل ځان سـم دلاسه په جلال اباد کي امير اعلان کړ. د امير حبيب الله خـان دريم ځـوي امان الله خان ( ۱۸۹۲-۱۹۶۰)مخکي لـه دې چي امـير شـوی وي د مـارچ په ۳ د هـند وايـسرا سردار چيلمسفـورډ تــه ليک وليږه: هلته يي ديته ګوته ونيوله چي «غـاصب» (نائب السلطنه سردار نصرالله خان) لـه واکمنۍ نه لاس اخـيستلی دی او پر ځای يي خلکـو دی (امان الله خان) ټاکلـی دی. دري افغـان جنرالان د ډيورند د سـرحد په لـوري وخـوځيدل: د ۱۹۱۹م د می په ۳ صالح محّمد خان ډکي ته ورسيد، د می په ۵ عـبدالقدوس خان د قلات-غلزای/کندهار په لوری وخوځيد او محّمد نادرخان د می په ۶ د پکتيا پـه خوست کي ديره شو. د خپلواکۍ جګړې تقريبا دوه او نی دوام وکـړ( لـودويـک اداميک، د افغانستان بهرنۍ چارې، ۱۹۷۴)په انګريزي ژبه]. ځيرکيار د وزيـرستان او ژوب د غازيانومشران، خانان، ملکان او ملايان جرګه شول. پريکړه يي دا شوه چي ټـول دي ځانونه تـيارسی کړي. ملا پونده اخوند په ۱۹۱۴ کي په حق رسيدلی و. د ليکوال جنرال يار محّمد خان وزيري په کورنۍ کي هم کوم مشر نه و پاتي شوی، او ځکه خو پخپله ده ته دخپلي کورنۍ مشري رسيدلې وه. د ديني عالمانو په چاپيريال کي، ملا همزالله اخوند، د ملا پونده اخوند ځوی ملا فضل الدين اخوند(مشهور په شهزاده)، د اشکي قاضي، ملک زقيم شاه خان او اميرشاه خان قاضي پخه ونـډه لرله او له دې امله به ورته د فتوي اخيستلو مـخ وراړول کـيده. د خانانو او ملکانو په لړۍ کي لکه غازي موسی خان مسيد، انګور خان، ملـک هفتي خان، زنګي خان، دلبازخان، مشرف خان، ملـک دنـډخان، شيرک خان کاکړ، سردارحسن خان کاکړ، قايم خان کاکړ، اخترمحّمد خان مندوخيل، ملک

فتح خان سلیمانخیل، نواب خان سلیمان خیل، شیرجان خروټی، نعمت خان خروټی او پخپله لیکوال جنرال نـوم ویستلــی و.

دې زیري چې سردار نصرالله خان د خپل وراره امان الله خان سره غبرګ شوی دی، ولس ډیـر خوښ کړ، د نوي امیر سره یې د وفامنۍ ژمنه وکړه، او د یوه خپلواک واکمن په څیر ورته د کړیدلي ولس هیلې زیاتې شوې. خو ولس دا اندیښنه هم لرله چې هسې نه ځوان امان الله خان د خپل پلار او نیکه په لار لاړشي او د وزیرستان او ژوب ولس د فرنګي زور زیاتي ته ځانله پریږدي! حاجي ملا عبدالرزاق د امان الله خان (ورى ۱۲۹۸ لمریز=۱۹۱۹) فرمانونه لیکوال جنرال وزیري ته ور وسپارل چې د سیمي قومي مشرانو او دیني عالمانو ته یې ورسوي.

ټولو مشرانو او عالمانو پریکړه وکړه چې د ۱۲۹۸ (۱۹۱۹) د ثور د میاشتي په لومړیو کې به په وانـه کې د مـلا همزالله اخـوند په کلي (اشکي) کې په ډیر پټ ډول راجرګه کیـږي چې انګریزان پرې خبر نشي. د اشکي په تاریخي او پټه غونډه کې لاندې مشرانو او دیني عالمانو برخه لرله: له وزیرستان نه همزالله اخوند، د اشکي قاضي، انګور خان، شیرمحّمد خان، دلبازخان، هفتي خان، قایم خان قاضي، ملا زنګي خان، زرمعین خان، ملک ګل خان، سید خان، ملک زقیم شاه خان، مشرف خان او پایو خان؛ له مسیدو نه ملا فضل الدین اخوند(د ملا پـونده اخوند ځوي)، ملک موسی خان، قطب خان، قاضي صاحب او امیرشاه خان قریش؛ له کاکړو نه سردار حسن خان، اخترمحّمد خان مندوخیل او سردار قایم خان؛ له سلیمانخیلو نه ملک فتح خان او نواب خان؛ له خروټو نه نعمت الله خان خروټی، او د کندر له سیمي نه پخپله لیکوال جنرال یار محّمد خان وزیری.

## (۵) د اشکي په غونـډه کې پـریکـړې

د اشکي په غونډه کې مشرانو او ملایانو «په اتفاق او یو اواز سره» خپل بوډا مجاهد ملا همزالله اخـونـد د ټـولو جنګي جبهو ستر کوماندان وټاکه. پاتې نورې غټې پریکړې په دې ډول وې: (۱) هر بـالـغ مسلمان باید په ځـان، مال او وسـلـه خـپـل فـرض اداکـړي. (۲) که پـه کور کې دوه ځوانان وي، یوبه یې غزا ته ځي؛ په غزا کې چې کوم غنیمت له فرنګیانو نه نیول کیـږي، د همغې سیمي په غازیانو پورې اړه لري. (۳) که په یوه سیمه کې غزا پیل شوه، باید په نورو ټولو سیمو کې دې هم پیل شي. (۴) که په کـومه سیمه کې انګریزان په غازیانو برلاسي شی، باید د نورو سیمو غازیان دې د مغلوبې سیمي ملاتړ ته ورودانګي. (۵) د جګړې په ډګر کې د هرې سیمي خپل مشر د ټپیانو اوشهیدانو د پالنې مسؤولیت لري، او غلچکي او ګډ بریدونه دواړه روغ دي. (۶) جاسوسانو ته جزا دې د غزا تر پاې پورې وځنډ یـږي، د دې لپاره چې قـومي او ځایـیزې فتنې رامنځته نـشي. (۷) ملا همزالله اخوند دې امان الله خان ته لیک ولیـږي چې غازیان دهغه مالي او ځاني مرستو ته اړتیا نـلري. (۸) نور څوک د دې اجازه نلري چې د وزیرستان، ږوب (ژوب)، کـنـدر او ګومل د خلکو په جهادي چارو کې لاس ووهي – د بل چا مشوره د اوریده ده، خو پریکړې به د دغـو سیمو د مشرانو په لاس کې وي. (۹) ملا همزالله اخوند د سیمو د مشرانو د غـزا «جرنیل» [جنرال] دی او فتوا یې ټولو مشرانو او غازیانو ته د منلو وړ ده. پخپله لیکوال جنرال یار محّمد خان وزیری د خپلې سیمې(کندر) د عمومي مشرپه څیر وټاکل شو. انګریزان ښایي د اشکي په دوه ورځنۍ پـټه او غـټه جرګه غوږیدلي وي، خو عکس العمل یې ونـښود. ځما (ځیرکیار) په اند، ښایي انګریزانو به فکر کاوه چې د اشکي د جر ګې ګډون کوونکي به خپل په خپله په مشرتابه وران شي او په خپل منځ کې به پـه شخـړه بـوخت شـي

ملا خیرالدین مریانـی او سلیمان خیل ملا شفیق الله اخوند نه یواځې تکړه مبلغین وو، بلکې په سیاست هم پوهیدل. دوی به ولس په دې پوهاوه چې انګریزانو عثماني خلافت له منځه وړی و، هممهال به یې ولس ته د ملا دین محّمد

انډر(ملا مشک عالم) او د ملا پونده اخوند د غزاګانو د کړاندو بیلګې ور په زړه کولې، ځکه چې پرګنې د دغو دواړو غازیانو او عالمانو د کړاندو سره اشنا وې. په خپله سیمه کې دغه دواړه نامتو مشران او غازیان وو. انګریزانو به د خپلو جاسوسانو له لارې د سیمې مشران د یوبل سره په فتنه اچول. جاسوسانو به یو مشر د شپې له خوا وواژه، او د وژنې ګناه به یې په بل بې ګناه مشر وروتپله، او په دې ډول به یې د خپلمنځې اور لمبو ته ببوځی واهه. خو د انګریزانو د نظام په دننه کې، غازیانو داسې اشخاص لرل چې غازیان او مشران به یې مخکې له مخکې د انګریزانو په پلانونو خبرول –[ دیته په سیاست کې «پنځم غونډ»/ ستونِ پنجم وایي]. په دغه پنځم غونډ کې دا سړي شامل وو: عصمت الله خان میجر صوبدار، پت خان میجر صوبدار، ترین خان جمعدار، مشوخان میجر صوبدار او اجمیر خان میجر صوبدار

سردار شاه ولي خان د یو شمیر کابلي پوځیانو سره له ګردیز نه اُورګون ته راغی، په دې هیله چې که د کندر، ګومل، ږوب(ژوب) او د وزیرستان د ولس جهادي چارې په خپل لاس کې ونیسي. نږدې ۱۰۰ کلن مشر ملا همزالله خان اخوند اورګون ته بیا هغه جرګه ولیږله چې ګردیز ته یې سپه سالار محّمد نادر خان ته لیږلې وه (انګورخان، امیرشاه خان، عبدالله جان خان، سلیم خان، شیرمحّمدخان، قطب خان، دنډخان او مشرف خان) او هلته یې د شاه ولیخان سره هم پیژندګلوي شوې وه. جرګه کې د اورګون په پوځي چونۍ کې د سردارشاه ولیخان سره لیدنه وکړه اوهغه یې په دې پوه کړ چې په وزیرستان او شاوخوا سیمه کې د فرنګیانواوګوره پوځیانو نه د چونیواو مرکزونو نیول « زموږ د ولس په ذمه دی.» دلیل یې دا و چې د وزیرستان او ګاونډیو سیمو خلک خپله سیمه ښه پیژني. شاه ولیخان ته یې ورزیاته کړه چې «د نیول شوو چونیواو مرکزونوساتنه به موږ کابلي پوځ ته سپارو او زموږ مجاهدین به په وړاندې ځي، **تر څو چې فرنګیان د پنجاب او ملتان نه تیر کړي.»** شاه ولیخان د جرګه ګی سره «هرڅه منلي وو.» د محّمد نادرحان پلان داو چې په افغانستان باندې د انګریزانو د تیري او پرمختګ د مخنیوي لپاره د خوست، ځاځیو او اورګون درې جبهې مهمې وې. د محّمد نادرخان سره دا اندیښنه وه چې د جګړې په پیل سره به انګریزان په افغانستان برید وکړي «لکه څنګه چې په ننګرهار او کندهار کې د افغانستان خاورې ته ننوتل.» لیکوال کاږي چې په پکتیا کې د نادرخان دغه درې جبهې د انګریزي پوځونو د مخنیوي لپاره وې، نه د تیري لپاره. د وانه د اشکې په جرګه کې مشرانو د برید لپاره ځلورسیمې ټاکلې وې: (۱) د وزیرستان د سیمې مورچل پخپله وزیرو او مسیدو په غاړه واخیست. (۲) د ژوب مورچل کاکړو او مندوخیلو ته سپارشوی و. (۳) د کندر مورچل د مریانو، سلیمانخیلواو کوچیانو په لاس کې و. (۴) د ګومل مورچل خروټو او سلیمانخیلو ته ور په غاړه شوی و. د اشکې په غټه جرګه کې دا هم منل شوې وه چې په جګړه کې نیول شوی غنیمت دې د همغې سیمې د جنګې سړو په سر وویشل شي.

## (۶) د ټل فـاتـح؟! سپـه سالار محّمد نـادرخـان

امان الله خان د انګریزانو د مقابلې په ضد دجګړې درې ډګرونه وټاکل: سهیل ته یې سردارمحّمد نادرخان د کوماندان په توګه ورولیږه، کندهار ته یې سردار عبدالقدوس خان اعتمادالدوله د کوماندان په ډول واستاوه، او د ختیز ډګر ته یې د جنګ وزیر صالح محّمد خان ولیږه. په ننګر هار کې افغاني پوځ د انګریزانو په مقابل کې ماتې وخوړه. دغې ماتې محمد نادرخان او د وزیر ستان د جبهې مشران اند یښمن کړل. د لمریز ۱۲۹۸ د ثور(۱۹۱۹) د میاشې اخري ورځې وې چې ملا همزالله اخوند د وزیرستان او شاوخوا سیمو مشرانو ته د وزیرو او مسیدو په لاس د جهاد د پیل امر ورکړ. احمدزو وزیرو لومړی برید د ۱۲۹۸د ثور په ۲۴[۱۵ مې ۱۹۱۹] د سروکي په چونۍ

باندي وکړ. دوی په وانه کې هم د انګریزانو په غټ پوځي مرکزباندي برید پیل کړ او د جوزا په ۲ یې ونیو، او ورپسې یې د کجیرۍ، نیلي، سپینکي کڅ، تنایي او د توی چونی ووهلې. همهال مسیدو په خپله سیمه کې د خپلو زړه ورو مشرانو( عبدلي موسی خان، قطب خان، ملا فضل الدین اخوند، قاضي امیرشاه خان... او موسی خان) په کومانده د رزمک، سیفلي توی، ساړه راغه، ډبرۍ، او نجي چونی ونیولې. د دې سره جوخت، مداخیل وزیرو د خپلو مشرانو(ملک دندخان، عبدالله خان او زنګي خان) په کومانده د میرامشا او تته خیلو په چونی بر یدونه پیل کړل. د هنګو او میرامشا نیولو لړ زیات وخت غوښته. غازیانو غوښتل چې په دغو چونیو کې پښتني ملیشې د میجر صوبدار پت خان اوجمعدارترین خان د مشرۍ لاندې ځانونه د فرنګي او ګوره پوځونو نه روغ راوباسي او د غازیانو سره ملګري شي. د ملیشو د غو دوه تنو مشرانو سره غازیانو «تینګې اړیکې» لرلې. پت خان او ترین خان د خپلو ملیشو سره راووتل، د غازیانو سره غبرګ شول او په ګډه سره یې د هنګو او میرامشا پوځي مرکزونه له انګریزانو نه ونیول.

ټل د انګریزانو غټ پوځي مرکز و چې د پکتیا لپاره یې غټ خطر لاره. غازیانو دغه ډیر مهم عسکري مرکز د ۱۲۹۸ لمریز د جوزا په ۳ نیټه[۲۵ مې ۱۹۱۹] له انګریزانو نه ونیو. «بیا په زړه سپېڅلو» غازیانو محّمد نادرخان ته بلنه ورکړه چې د فرنګیانو د ټل «ستر نظامي مرکز په **تشریفاتي توګه فتح کړي او د ټل** د **سوبې مراسم پرځای کړي**. محّمد نادرخان چې تر هم هغه ګینټو یې د توپک نه یوه ګولی هم د فرنګیانو په لور ویشتلې نه وه، د ټل پوځي مرکز یې په تشریفاتي توګه د تو پونو د ګولیو په اور سره فتح کړ او بیا یې په ډیره بې انصافی او بې عدالتی سره د ټل فتح په خپل نوم سره ونوموله....هم هغه وخت موږ د محّمد نادرخان نه هیله وکړه چې د فرنګیانو نه فتح شوې چونی او مرکزونه دې د... غازیانو د یوه یوه مشر په نوم ونومول شي ولې د هغه دا لورونه د مجاهد ینو په مشرانو ونه شوه»،مخونه۷۶-۷۷

نوربیا